مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: سراج الحق ببرک زی ځدران ۲۰۲۶/۰۴/۰۷

# د نړۍ تر ټولو ځواکمن واکمن
# د چین دولت او کمونسټ ګوند مشر جین پینګ څوک دی.؟

سرېزه:

دا څېړنيزه مقاله د شي جين پينګ د سياسي ژوند، د واک تمرکز بهير، او د نړيوال سياست پر ډګر د هغه د اغېزو تحليلي څېړنه وړاندې کوي. څېړنه دا ارزوي چې څنګه نوموړي له تاريخي، سياسي او سازماني فرصتونو څخه په ګټې اخيستنې سره ځان د معاصر چين يو تر ټولو لوی ځواکمن مشرتوب ته رسولی دی، او د هغه سياستونه د نړيوال نظم او ځواک د توازن په بدلون کې څه رول لري.

چېن په وروستيو لسيزو کې د نړيوال اقتصاد او سياست په مهم لوبغاړي بدل شوی دی. د نړيوال نظم د بدلون په مرکز کې شي جين پينګ ولاړ دی، چې د چين د کمونسټ ګوند عمومي منشي، د چين دولتمشر او د چين د مرکزي پوځي کميسيون مشر دی. د واک دا درېګوني تمرکز هغه ته بېسارې سياسي واک او نفوذ ورکړي دی. دا څېړنه ښيي چې نوموړي څنګه د ګوندي جوړښتونو، اداري اصلاحاتو او ستراتيجيکو پاليسيو له لارې خپل واک پراخ کړي او چين د نړيوال ځواک په توګه په نړۍ کې ځان مطرح کړي دی. دا مقاله د ثانوي سرچينو ,, کتابونو، څېړنيزو ليکنو، مقالو او راپورونو,, پر بنسټ چمتو شوې ده.


شي جين پينګ

په معاصر نړيوال نظام او نظم کې د چين راڅرګندېدل د يوويشتمې پېړۍ له مهمو بدلونونو څخه ګڼل کېږي. د دې ژور بدلون تر شا يو مهم چينايي شخصيت شي جين پينګ ولاړ دی، چې د چين د کمونسټ ګوند، د چين دولت او وسله وال پوځ مشري په لاس کې لري.

شي جين پينګ د نړۍ تر ټولو ګڼ نفوس لرونکي هيواد د شاخوا يو نيم ميلياردو چينايانو ولسمشر دی. دا سړی څنګه دومره ځواکمن شو، چې د عمر تر پايه د چين ولسمشر پاتې شي.؟

اصلاً شي جين پينګ څوک دی او څنګه يې د واک دې مهمو مقامونو ته د رسيدو توان ترلاسه کړ.؟

شي جين پينګ څنګه په چين کې يو پياوړی ځواکمن واکمن حاکم او لوی شاهنشاه ګرځيدلي دی.؟

دا مقاله هڅه کوي لاندې څېړنيزې پوښتنې وڅېړي.

- شي جين پينګ څنګه واک ته ورسېد او خپل واک څنګه تنظيموي او چلوي.؟
- شي جين پينګ څنګه خپل واک پياوړی او پر ځان متمرکز کړي.؟
- د هغه مشرتوب د نړيوال سياست لپاره څه مانا او پايلې لري.؟

ماويزم، مارکسيزم او لينينزم په افغانستان کې نورهيڅ چانس نه لري، خو افغانستان د واخان دهلېز له لارې د چين هيواد له اقتصادي، تېکنالوجيکي پرمختګ او سوداګريزو اړيکو ښه ګټه اخيستلې شي. که اړيکې سمې مديريت شي.

## د شي جين پينګ ژوند ليک او تاريخي شاليد:



شي جين پينګ د 1953 کال د جون په 15 مه د شانشي ولايت په فوپينګ کې زېږېدلی. د هغه پلار، شي ژونګ شون، د چين د کمونسټ ګوند له مهمو انقلابي څېرو څخه و او د ماو زيدونګ نږدې ملګری ګڼل کېده.

خو د چين کولتوري انقلاب پر مهال، د شي جين پينګ کورنۍ له سختو سياسي فشارونو سره مخ شوه. د هغه پلار له واکه وغورځول شو او خپله شي جين پينګ ليرې کليوالو سيمو ته جبري ولېږدول شو. هلته يې د بزګر په توګه څو کاله په يوه کرنيزه ورسته پاتې ټولنه يا زېره ځمکه کې کار وکړ.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ



د شي پلار د ماو زېډونګ او کمونستانو په ملاتړ مبارزه کوله. شي په یوه شتمنه او لوکسه کورنۍ کې لوی شوی دی او د ګوند د لوړپوړو چارواکو د زامنو لپاره په ځانګړو ښوونځیو کې زده کړې کړې دي. د هغه ژوند د یوه شهزاده په څېر و. هغه زده کول چې څنګه چین د پرمختګ او عصریت پر لور رهبري کړي. دغو زده کونکو زده کول، چې چېني تولنه څنګه د کمونسټ ګوند لپاره چمتو کړي.
د چین له انقلاب څخه مخکې، په دې هېواد کې د امریکا پلوه جنرال چانګ کای شیک حکومت کاوه. ماو زېډونګ 22 کاله د همدې جنرال پر ضد مبارزه وکړه. جنرال چانګ کای شیک له ماتې ورسته تایوان ته ولاړل، هلته یې د تاوان ازاد حکومت اعلان کړ. له دې جګړې مخکې چین د نړۍ یو ډېر بېوزله هېواد و، او ماو زیډونګ د دې غربت پړه د چین پر اشرافو، نخبګانو او هیوادپالو وراچوله.
ماویستي انقلابیانو شتمن او د پراخو ځمکو خاوندان په عام محضر کې توهین، تحقیرول، وهل او ټکول.
شي لا نهه کلن و، چې پلار یې د ماو زېډونګ د پاکولو سیاست، یعني د اشرافي طبقې د له منځه وړلو قرباني شو.
په دېارلس کلنۍ شي په خپله هم د ماو رژیم چارواکو لخوا په عام محضر کې مجازات شوي دی. له همدې امله شي په پینځلس کلنۍ د شانګ چې کلیوالي سیمو ته جبراً ولیږدول شو.
شي د ښاري ماشوم، د اشرافي کورنۍ غړی او د یوه شهزاده هلک په توګه نشول کولې، چې په کلیوالي سخت چاپېریال کې د بزګر په توګه شاقه کارونه ترسره کړي. شي همدلته هم د شپې لخوا ماویستي او مارکسیستي کتابونه لوستل. دې تجربې د شي په ژوند، سیاسي فکر او شخصیت جوړونه کې ژورې اغېزې وکړې.
شي جین پینګ وروسته له هغې وتوانېد چې بیجینګ ته بېرته راستون شي، کله چې هغه ته د سنګهوا پوهنتون کې د کیمیاوي انجینرۍ په برخه کې د لوړو زده کړې لپاره یو ځای ورکړل شو. وروسته یې په سیاسي حقوقو او مارکسیستي فلسفه کې هم لوړې زده کړې بشپړې کړې.



په 1975-79 کلونو کې د بیجینګ په سینګهوا پوهنتون کې د کیمیاپوهنې لوړې زده کړې ترسره کولو ورسته،
په 1998-2002 کلونو کې د مارکسیستي فلسفي او ایدیالوجیکي زده کړې په برخه کې زده کړې وکړې او د حقوقو په برخه کې دوکتورا سند هم ترلاسه کړي دی.
شي په بیجینګ کې د کیمیاوي انجینرۍ زده کړې وروسته د لومړي وزیر مرستیال او د ملي دفاع وزیر ګینګ باو سره کار وکړ.
شي جین پینګ په ځواني کې د چین لوړپوړو چارواکو سره د سکرتر په توګه کار پیل کړ. دې تجربې هم د سیاسي شبکو په جوړولو کې ورسره ډېره مرسته وکړه. وروسته یې په بېلابېلو ولایتونو لکه فوجیان او ژیجیانګ کې مهم اداري او ګوندي مقامونه ترلاسه کړل.
د چین کولتوري انقلاب پر مهال، د هغه کورنۍ بد نامه شوه او له سیاسي ځپنې سره مخ شوه. دې تجربو هم د هغه په شخصیت کې د زغم، احتیاط، سیاسي واقعیتګرایي بنسټ کېښود.
له 1993 کال راهیسې د فوجیان ولایتي حکومت غړی و. په 2002 کال کې د ژیجیانګ ولایت والي و. په 2007 کال کال کې د چین د کمونسټ ګوند د سیاسي بیورو دایمي کمیټې غړی وټاکل شو.
په 2008 کال کې د مارچ په 15 مه د خلکو جمهوریت د مرستیال ولسمشر په توګه وټاکل شو.
په 2012 کال کې د چین د کمونیسټ ګوند د مرکزي کمیټې غړی او د چین د کمونیسټ ګوند عمومي منشي وټاکل شو.
د چین په بېلابېلو ولایتونو کې د ګوند په تنظیمي چارو کې دننه د څو پوستونو له ترسره کولو وروسته، شي جین پینګ په 1999 کال کې د فوجیان ولایت والي شو.
په 2002 کال کې هغه په ژیجنګ ولایت کې ورته دنده ترلاسه کړه. د شانګهای په مشرتابه کې د یوې رسوایۍ وروسته، هغه په 2007 کال کې په دې ښار کې د کمونسټ ګوند مشر وټاکل شو.
یوازې څو میاشتې وروسته، د 2007 کال په اکتوبر کې، هغه د ګوند تر ټولو لوړې کمیټې، پولیټ بیورو ته وټاکل شو. د 2008 کال په مارچ کې، شي جین پینګ د چین مرستیال ولسمشر شو.
د 2013 کال د مارچ په 13 مه د چین ولسمشر په توګه وټاکل شو.
د شي جین پینګ د شخصي ژوند په اړه ډېر لږ مالومات شته.
هغه له 1987 کال راهیسې له سندرغاړې پینګ لی یوان سره واده کړې دی. دا جوړه یوه لور لري.
په هغه وخت شي جین پینګ د کمونیستي اشرافو سره تړاو درلود. د هغه پلار، شي ژونګ شون، د افسانوي لانګ مارچ په جریان کې د ماو زیډونګ سره یو ګوریلایي مشر و او د مرستیال صدراعظم مقام ته ورسیدلی و. د هغه مور، چي ژین، د ماو کمونیزم لپاره د وسلې سره مبارزه وکړه او وروسته یې د مرکزي ګوند په ښوونځي کې تدریس ورکاو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

د خپلو اهدافو د ترلاسه کولو لپاره په کله هوډ سره څنګه شي جین پینګ د چین مطلق واکمن وګرځید.
د شي جین پینګ پلار د ماو زیډونګ په وخت کې بد نام شوي او له پامه وغورځېدلي و. خو وسمهال شي جین پینګ په خپله د چین د ولسي جمهوریت د بنسټ ایښودونکي په څیر واک او ځواک لري.
جین پینګ په تدریجي ډول خپل مطلق سیاسي واک د چین په ولسي جمهوریت کې خوندي کړي دی.
هغه په بې رحمانه ډول خپل سیالان او مخالفین له منځه یوړل، ګوند او ټولنه یې په یوه لیکه کې راوستل. په دې ډول شي جین پینګ پرمخ لاړ. وسمهال شي جین پینګ په خپله د چین دولت د مطلق واکمن په توګه د چیني امپراتوري شاهنیشاهي تاج په سر ایښودلو درشل کې دی.
په 2022 کال د اکتوبر په میاشت کې شي جین پینګ د چین د کمونسټ ګوند په شلمه کانګره کې د جمهوري ریاست خپله دریمه دوره پیل کړي، په دې توګه د ولسي جمهوریت چین د بنسټ ایښودونکي ماو زیډونګ څخه وروسته د هیواد تر ټولو ځواکمن واکمن په توګه خپل دریځ پیاوړی کړي.
په 2012 کال د نوامبر په 18 مه د کمونسټ ګوند عمومي منشي او د مرکزي پوځي کمیسیون د رییس په توګه ټاکل کیدو او څو میاشتې وروسته د ولسمشر کیدو راهیسې، شي جین پینګ په دوامداره توګه خپل واک پراخ کړی دی.



جین پینګ د چین ټول سیاسي واک په خپل ذات کې متمرکز کړی او ځان یې د چین ,,عالي رهبر,, مقام ته لوړ کړی دی.

## د سیاسي واک ورستۍ څوکې ته د شي جین پینګ لوړیدل:

دا پوښتنه بیا هم راولاړیږي، چې دا سړی څوک دی او د هغه پالیسو څنګه نړۍ تر ټولو ګڼ نفوسه هیواد چین بدل کړي.؟
د جین پینګ اداري او سیاسي تجربو تنوع او په 1978 کال کې د لوړ پوړي پوځي مشر ګینګ باو د شخصي سکرتر په توګه څلور کاله کار او له هغې وروسته جین پینګ د چین ملکي حکومتي اداري چارو ته تبدیلیدل او له کلیوالي کچې تر مرکزي حکومت پوري یې دندې ترسره کول. جین پینګ په دې موده کې د خپل مسلکي کار ډیره برخه په فوجیان کې تېره کړه، چې د تایوان ټاپو ته مخامخ په چټکۍ سره وده کوونکی سویل ختیځ ساحلي یو ولایت دی.
په 1974 کال کې نوموړي د چین کمونسټ ګوند سره یو ځای کیدل. له هغمهال راهیسې جین پینګ د چین راتلونکي لپاره یو له مهمو اوسپنیزو مشرانو څخه ګڼل کیږي.

## د چین سیاسي دولتي واک ته رسیدل: •

د شي جین پینګ سیاسي واک عروج تدریجي و، خو سم سنجول شوی و. دا بهیر ښيي چې جین پینګ د ګوندي جوړښت دننه په تنظیمي ډول په منظمه ډول راپورته شوی دی.
شي جین پینګ له همدې مهاله خپل سیاسي واک پیاوړي کړی دی او د چین ماو زېډونګ راهیسې د دې هیواد تر ټولو ځواکمن مشر په توګه چین ستر لرغوني ځواکمن هیواد رهبري کوي.
د دې مهمو دولتي مقامونو ترلاسه کولو ورسته د چین د سیاسي نظام تر ټولو لوړ مقام ولسمشري ته رسیدل.
• د دولتي واک تمرکز او پیاوړتیا: جین پینګ په سیستماتیک ډول خپل واک په دریو برخو کې پیاوړی کړ.
1. د فساد ضد کمپاین
شي جین پینګ لومړی په چین کې د فساد پر ضد پراخ کمپاین پیل کړ، چې میلیونونه دولتي کارکوونکي یې تر څار لاندې راوستل. دا کمپاین هم د اصلاحاتو یوه وسیله وه، خو د سیاسي سیالانو د کمزوري کولو یوه لاره وه. دغو اقداماتو هم اصلاحاتي او هم سیاسي بڼه درلوده.
2. د واک متمرکزولي
د شي جین پینګ د واک متمرکزول د "کوچنیو مشرتابه ډلو" له لارې واکونه هم تر لاسه کړل، کوم چې مخکې د چین صدراعظم په واک کې ول، په ځانګړي ډول اقتصادي پریکړې ترسره کړې.
. سیاسي کنټرول3
شي جین پینګ کمونسټ ګوند د چین وسله وال پوځ او چیني ټولنه تر سخت کنټرول لاندې راوستل، او خپل وفادار فعال او وړ کسان یې په مهمو پوستونو کې وګومارل.

## نړیوال لیډلوري او نړیواله ستراتیجي•

چین د شي جین پینګ تر مشرۍ لاندې د اقتصادي پراختیا او د پوځي عصري کولو له لپارې د نړیوال زبر ځواک کېدلو کې هڅه کوي.
د شي جین پینګ تر مشرۍ لاندې چین هڅه کوي، چې په راتلونکې کې یوازېنې نړیوال ستر زبر ځواک شي. د جین پینګ ستراتیجي څو مهم اړخونه لري. لومړی اقتصادي پراختیا، دویم پوځي پیاوړتیا او دریم کولتوري اغېزمنتیا.
چین د اقتصادي ځواک له مخې په چټکۍ سره وده کړې او د متحده ایالات سیال ګرځېدلی دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

چین په چټکۍ سره نړیوال اقتصادي مقامونه ترلاسه کړي دي او د پیرودلو ځواک له مخې یې حتی له امریکا متحده ایالات څخه مخکې والی هم ترلاسه کړي.
د شي جین پینګ مشرتوب د څینو سیاسي شنونکو له انده، د ماو زیدونګ وروسته تر ټولو لوی او پیاوړي مشر دی.
د 2022 کال په ګوندي کانګرس کې د دریمې دورې ترلاسه کول د واک د دوام یوه بله مهمه نښه ده.
د شي جین پینګ مشرتابه د ماو زیدونګ له دورې وروسته تر ټولو متمرکز ځواک بلل کېږي، خو دا سیاسي تمرکز یو شمېر اندېښنې هم راولاړوي.
د سیاسي ازادۍ محدودېدل•
د واک د توازن نشتوالی •
د نړیوالو سیالیو زیاتوالی•
د خلکو ازادۍ محدودول د بېلګې په توګه د اویغور لږکیو په وړاندې په ځانګړې توګه د سینکیانګ په سیمه کې د چین پالیسي پر نړیوال کچ تر سختو نیوکو لاندې راغلې ده.
دا سیمه د چین لپاره په ستراتیجیک ډول مهمه سیمه ده، د بېلګې په توګه د انرجۍ او سوداګریزو لارو، د وریښمنو لارو او د نورو راکړو ورکړو نوښتونه لپاره. د حکومتي، نادولتي موسسو او رسنیو راپورونو له مخې د 2017 کال راهیسې دلته د اویغور مسلمانانو ډله ایزو توقیفونو راپورونه ورکول کیږي.
د اټکلونه له مخې د سلګونو زرو څخه تر یو میلیون زیاتو اویغوریان او قرغیزیان د تش په نامه "مسلکي روزنیزو مرکزونو" کې توقیف شوي او اجباري شاقه کارونو ته اړ کړل شوي دي.
سینکیانګ په نړۍ کې یو له هغو سیمو څخه ګڼل کېږي، چې تر ټولو ډېرې د چیني پولیسو لخوا تر څارنې او پلټنو لاندې ده. د اویغوریانو په مذهبي او کولتوري کړنو باندې محدودیتونه وضع کړل شوي دي. د مثال په توګه د روژې په میاشت کې روژه نه نیول، د جوماتونو ویجاړول، په ښوونځیو کې پر اویغوري ژبې باندې بندیز لګول او داسي نور بندیزونه لګول شوي دي. د چین حکومت مسوولین وایي: دغه اقدامات د افراطیت او ترهګرۍ پر ضد مبارزې لپاره ترسره کوي.

## جین پینګ څنګه په سیاست کې پرمخ لاړ، او کومو عواملو په کې مهم رول ولوباوه؟

شي جین پینګ د اقتصادي پالیسی د پریکړې کولو واکونه چې معمولا د لومړي وزیر سره و، له پامه وغورځول.
هغه دا کار د مختلفو "کوچنیو مشرتابه ډلو" د مشرۍ په ترلاسه کولو سره ترلاسه کړ. په شمول د یوې نوې ډلې چې په 2012 کال کې د "اصلاحاتو او پرانیستلو" لپاره د دندې له پیل وروسته جوړه شوه، او همدارنګه د مالي چارو سمبالښت لپاره یوه موجوده ډله شوه.
جین پینګ د هغو چاروکو د له منځه وړلو لپاره یو پراخ کمپاین پیل کړ، چې بې وفا، فاسد یا بې اغیزې ګڼل کېدل.
جین پینګ د خپلو متحدینو په مرسته د خالي پوستونو په ډکولو سره د خپل ځواک بنسټ پراخ کړ. تر اوسه پورې شي جین پینګ لخوا 4,7 میلیونه ملکي مامورین کنټرول او ارزول شوي دي او څو لوړ پوړو جنرالانو هم ګوښه کړل شوي دي. په رسمي ډول د فساد د تورونو له امله، خو دا ټول اقدامات ښیي چې شي جین پینګ څومره په وفادارۍ او د نظام پر کنټرول باندې تکیه لګولې ده.

## چین د نړیوال ځواک کیدو لپاره یو څرګند پلان لري

په نړیوال سیاست کې د چین ستراتیجیکه آرامتیا ټول ښه پیژني. د چین مشرتابه او شي جین پینګ د خپلې ستراتیجیکي آرامتیا سره د چین وسله وال پوځ، اقتصاد او کولتور ته څښته ډېره پاملرنه کوي او ورځ تر بلې وده ورکول کیږي.
دا اوږد مهاله موخې د امریکې متحده ایالات د نړۍ د یو ثابت ستوري په توګه پر خپل ځای کینولو لپاره دي او په نړۍ کې د امریکایي ډالرو لمن ورټولول دي. په دې ډول چین غواړي خپله د نړۍ یوازینې مخکښ زبرځواک ستورۍ شي.
چینایانو د چین نړیوال ځواکمن کیدلو او عروج ستاینه کوي. هېڅوک باید دا له پامه ونه غورځوي، چې نړۍ په چټکۍ سره بدلېږي او په خواشینۍ سره موږ داسي عمل کوو، لکه چې هیڅ نه وي پیښ شوي.
په 2005 کال کې د چین اقتصادي ځواک د فرانسي څخه مخکې شو. چین په ټوله نړۍ کې پینځم مقام ته ورسید. په 2006 کال کې چین د بریتانیا څخه مخکې شو. په 2007 کال کې د جرمني څخه مخکې شو، او په 2009 کال کې جاپان څخه مخکې شو.
د پیرودلو ځواک یې د برابرۍ په تناسب سم تنظیم شوي ناخالص کورني محصول له پلوه، چین حتی له 2014 راهیسي له متحده ایالاتو څخه مخکې شوي. په دې توګه چین په نړۍ کې مخکښ اقتصادي ځواک دی. دا یو ټیکټونیکي یا قاروي تاریخي بدلون دی، څکه چې له 1872 راهیسې تراوسه امریکایانو په نړۍ کې لومړی مقام درلود.
شي جین پینګ د ماو زیدونګ راهیسي د چین ترټولو پیاوړی واکمن ګڼل کیږي. د چین ټول سیاسي او دولتي واک یې پر خپل ځان متمرکز کړي او چین یې په یوه خورا کنټرول شوي نظارتي دولت باندې بدل کړي دی.
په عصري چین کې د واک اوج ته د شي جین پینګ لوړېدل او د هغه وړتیاوې چې څومره استبدادي دي او ظاهراً ټول د ځواکمن شخصیت شي جین پینګ پورې اړه لري، ډېرى خلک یې حیران کړي دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د ماو زیډونګ چین یو کمزوری اقتصاد و چې د فقر کچه یې ډېره لوړه وه او د ښاري کیدو کچه یې ډېره ټیټه وه.
چین پر نړیوال کچ په انزوا او په ځنډو کې ساتل شوی و.
تر 1972 کال پورې چین په ملګرو ملتونو کې څوکۍ نه درلوده.
تر هغه چې یو کال وروسته د امریکې ولسمشر نیکسن چین ته سفر وکړ. دا مهال چینایانو له امریکا سره مستقیمه رسمي اړیکه نه درلوده.
نن ورځ، چین د نړۍ دوم لوی اقتصاد دی. نن ورځ، چین د نړۍ دویم لوی اقتصاد، د 120 څخه زیاتو هیوادونو ترټولو لوی سوداګریز شریک دی. د نړۍ تر ټولو لوی صادرونکی او دویم لوی واردونکی هیواد دی. نن د نړۍ په ځینو برخو ان په افریقا کې لکه امریکا پوځي اډې لري.
چین په نړۍ کې یکتازه زبر ځواکي ته د راستنیدو او پخوانی چینې امپراتوری بیا راژوندي کولو ته په لاره کې دی.
ماو زیډونګ ښایي د داسي یو چین خوب لیدلی وي، چې یوه ورځ به چین یو لوی ځواک وي. خو شي جین پینګ دا خوب په واقعیت کې ژوندی کړي، چې چین یو لوی نړیوال ځواک دی.
په چیني نظام کې مارکسیستي- لینینیستي او د پانګوالی عناصرو سره یو ځای شوي دي او په دې ډول چیني نظام تشریح کیږي.
له 2012 کال راهیسې د شي جین پینګ پیغام د ټولو چینایي وګړو لپاره همداسې یو شانته ثابت پاتې شوي دی: د عصریت عظمت شیبې زموږ په لاس کې دي، او دا تر هغه پورې چې د کمونسټ ګوند لخوا چمتو شوی یووالي او ثبات وساتل شي، دا عظمت ترلاسه کیدای شي.
نن ورځ، چین د نړۍ یو له خورا پیاوړو هیوادونو څخه دی، او د چین اقتصاد په بیساري توګه وده کوي.

## سوسیالیزم د پانګوالی او کنفوسیاني تعلیماتو سره سمون لري:

کنفوسیاني تعلیمات د چینایي فیلسوف کنفوسیوس (551-479 ق.م) له فلسفي څخه سرچینه اخلي او کنفوسیانیزم بلل کیږي. دا تعلیمات اخلاقي او ټولنیز اصول لري، چې خلکو ته د ښه او همغږي ژوند لار ورښیي. په رسمي توګه، د چین ولسي جمهوریت لا هم یو سوسیالیستي نظام ګڼل کیږي. له همدی امله د ګوند او حکومت استازي هېڅکله د کارل مارکس یا ماو زیډونګ نظریې بیانولو او د لیکنو پر اهمیت ټینګار کولو څخه نه ستړي کیږي.
په ورته وخت کې دا د انکار وړ خبره نه ده، چې چین په زیاتیدونکې توګه د پانګوالي اقتصادي سیستمونو فعالیت له یو بل سره تطابق کړی دی. څارونکي دې ته د چینایي دولتي کیپټالیزم یا پانګوالی وایي.
د سوسیالیزم، پانګوالی او کنفوسیانیزم عناصر د چینایي مشرتابه په تفکر کې لکه د ودانۍ کنکریټي بلاکونو په څیر سره یو ځای شوي دي، ترڅو یو دولتي ماډل رامینځته کړي، دغه دولتي سېستم ماډل یوازې په چین کې په دې بڼه کې شتون لري.

## ایا چین یو دیکتاتوري نظام دی؟

په چین کې عمومي ټاکنې، ټولپوښتنې، یا د ډیموکراتیک ګډون نورمونه او ډولونه شتون نه لري. د چین ولسي جمهوریت مشرتابه د لویدیځ ارزښتونه لکه ډیموکراسي، بشري حقونه او د ازادو رسنیو سیاستونو په وړاندې یو ایډیالوجیکي درېځ غوره کړي دی. کوم چې ټول یې د دورغجن یا تخریب ونکي په توګه طبقه بندي کړي دي.
په هرصورت، د چین مشرتابه د چینایي وګړو د مختلفو برخو اړتیاوو او غوښتنو د پوهیدو پر اهمیت باندې ښه پوهیږي. د مرکزي پوځي کمیسیون د مشر په توګه، جین پینګ د چین د وسله والو ځواکونو قومانده هم په غاړه لري.
شي جین پینګ د چین کمونسټ ګوند چې 90 میلیونه غړي لري مشر دی. د چین کونسټ ګوند په ټوله نړۍ کې یو له لویو سیاسي سازمانونو څخه دی او په ورستیو لسیزو کې د ګوند غړیتوب خورا زیات شوي دی. د چین وسله وال پوځ د نړۍ تر ټولو لوی وسله وال پوځ دی، چې شاخوا دوه میلیونه فعال مدرن مجهز سرتیری لري.

## د عمري یا د ژوند تر پایه ولسمشر پاتېکدلو لپاره په اساسي قانون کې تعدیل

په 2018 کال کې شي جېن پینګ د اساسي قانون له مخې د ولسمشر لپاره د دوري محدودیت له منځه وړلو سره خپل سیاسي واک بنسټ له نوره قانوني او پیاوړي کړ. د چین د خلکو ملي ګانګرس د دې قانون د لغوه کولو لپاره رائیه ورکړه. د ولسمشري حد اعظمي دوه دوري یا لس کلن محدودیت لېری کړ شو. د چین د خلکو ملي ګانګرس د ولسمشر لپاره د کاري مودې محدویتونه هم ټول لري کړل، کوم چې د 1990 لسیزې راهیسې نافذ ول. په دې توګه شي جین پینګ د نامالوم مودې لپاره د حکومت کولو واک او اختیار لري. په دې مانا چې له دې تعدیل سره نور قانوني محدودیت نشته، شي جین پینګ د ټول عمر لپاره د چین ولسمشری اجازه لري.

## امریکا باید نوره خپله نړیواله تسلط له لاسه ورکړي

شي جین پینګ په کلکه د یو ,, نوي نړیوال نظم,, په لټه کې دی، څو په کې امریکا خپل نړیواله تسلط او برلاسي له لاسه ورکړي. په بیجینګ کې ورستی پوځي پریډ د چین ولسي جمهوریت په تاریخ کې ترټولو لوی و. چې په کې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

نوي جنګي ډرونونه، په مصنوعي ځیرکتیا لاربښودونکي مدرنو وسلو سیستمونه شامل وو. په ورته وخت کې لسګونه زره رنګین بالونونه او د سولې کوترې د بیجینګ اسمان ته خوشې کړل شولې.
د چین ولسي جمهوریت ځان په نړیوالتوب کې د نړۍ سویلي برخې ولسونو د مدافع وکیل په توګه ګوري، کومو چې تر اوسه یې هیڅ غږ نه دی پورته کړی.
دا روایتي کیسې یا تاریخ په ډېرو ژورو رواني ټپونو کې نغښتي راڅرخیږي. دا تاریخ د نولسمې پیړۍ پورې اړه لري. کله چې چین د لویدیځ استعماري قدرتونو لخوا تحقیر، توهین او سپکاوی شوی و. دلته یوازې د لویدیځو استعماري ځواکونو دوه بېلګې وړاندې کېږي.
په میلیونونو په مخدره توکو روږدي چینایان، چې د برتانویانو او امریکایانو له خوا چین ته د اپینو د قاچاقي او سوداګرۍ له لارې رامنځته شول او په بیجینګ کې د چین امپراتورۍ د دوبي ماڼۍ، چې د فرانسوي او برتانوي سرتېرو له خوا ویجاړه کړل شوه. البته هغه ظلمونه چې د دویمې نړیوالې جګړې په بهیر کې د جاپانیانو لخوا ترسره شوي هم د یادولو وړ دي.
چین د شانګهای د همکارۍ سازمان په غونډې کې نړۍ ته داسې زیګنالونه او سمبولونه واستول، چې شي جېن پینګ د ,, نوي نړیوال نظم ,, غوښتنه لري. شي جین پینګ په دې برخه کې د ,,چېنې اژدها، د هندي فیل او د روسي خرس,, د همغږۍ غوښتنه هم کړې ده. د شانګهای د همکارۍ سازمان غونډې مهم پیغام دا وه، چې دا به د نړۍ نوی جیوپولیتیک محور وي.
که د شي جین پینګ ویناوو ته ښه ځیر شو، هغه عموماً خپلې موخې او تګلارې په روښانه او مستقیمو ټکو کې بیانوي. د ده په څرګندونو کې د سیاسي دریځونو وضاحت او قاطعیت په ښکاره ډول لیدل کېږي. هغه پرله پسې توګه ,, د مخالفو ځواکونو,, یادونه کوي او هغوي د چین د ګټو پر وړاندې د ننګوني په توګه انځوروي.
د هغه په ویناوو کې د چین او امریکا اړیکې زیاتره د سیالۍ او تقابل په چوکاټ کې وړاندې کېږي. دغه اړیکې نه یوازې پېچلې دي، بلکې ورو ورو د یو ګواښمن او حساس پړاو پر لور د ټګ نبښې هم څرګندوي. دا وضعیت ښيي چې د دواړو سترو قدرتونو ترمنځ باور کم شوی او سیاسي واټن ورځ تر بلې د تقابل پر لور زیاتېږي.

## چین د نړیوال زبر ځواک په توګه د پینځه کلن پلان تر شا څه پټ کړي دي؟

د چین پینځلسم پنځه کلن پلان څه شی لري او ولې له سیاسي پلوه مهم دی. پینځه کلن پلان د چین د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ لپاره د حکومت یوه مرکزي رهبري کوونکې وسیله ده.
د نړۍ سوداګریزو شخړو، نړیوالو بحرانونو او د نړیوال ځواک په توګه چین د خپل دریځ د پراخولو هڅو په منځ کې واقع دی.
په هرو پینځو کلونو کې د چین کمونیسټ ګوند دا ټاکي چې هیواد څنګه پرمختګ وکړي. په خپلو پلانونو کې یادوي.
د چین نوی پینځه کلن پلان نن ورځ څه ډول ښه غوره کړي.
پنځلسم پلان (2026-2030) د شي جین پینګ په مشرۍ جوړېږي او احتمال لري، چې په ټیکنالوجیکي ځان بسیاینې، اقتصادي انعطاف او پر ملي امنیت باندې تمرکز ولري.
د اروپایي ډیموکراسۍ برعکس، په چین کې اقتصادي پالیسي په مرکزي توګه د چین کمونسټ ګوند لخوا تعین کیږي او کنټرول کیږي او ستراتیجیک لومړیتوبونه په کې منعکس کیږي.
ایا په دې نوي پینځه کلن پلان کې به له امریکا سره سوداګریزه جګړه په پام کې ونیول شي؟
په رسمي ډول، چین د امریکا سره د مستقیمې شخړې څخه ډډه کوي، په نوي پلان کې د سوداګرۍ شخړې یادونه خورا ناشوني برېښي. سره له دې چې د چین ستراتیجیک لوري روښانه دی.
په 2049 کال کې چین د نړیوال زبر ځواک کیدو په لاره کې څه موخې او څه په پلان کې لري.
چین د پیړیو راهیسې یو سېمه ییز او نړیوال ځواک و، او یوازینی دلیل چې وسمهال نه دی د ,, استعمار زلت او تحقیر پیړۍ,, له امله دی، چې تقریبا د نولسمې پیړۍ له نیمایي څخه تر 1949 پورې د چین ولسي جمهوریت تر تاسیس پورې دوام وکړ، کله چې چین په جزوي ډول د لویدیځ لخوا مستعمره شوی و.

## د چین ملت د بیا رغوني لوی خوب:



دغه چینایي خوب درې موخې لري، چین باید په نړۍ کې په یوازېنی نړیوال اقتصادي ځواک باندې بدل شي. چین باید د نړۍ ترټولو ستر مدرن وسله وال پوځ ولري او ټایوان بیرته له مورنۍ خاورې چین سره یو ځای کړل شي. د دې خوب د ترلاسه کولو لپاره د بیجینګ مشران باید درې ستر کارونه ترسره کړي:
چین باید په سیاسي، اقتصادي او پوځي لحاظ ځان پیاوړی کړي. د چین باید خپله د نفوذ ساحه او نړیوالو لاسرسی زیات کړي او د لویدیځ د نفوذ کچه او ځواک را کم کړي.
دا په دې مانا ده، چې چین سږکال په سیمه کې هیڅ ډول بې ثباتي نه غواړي، ځکه چې دا به د دې مهمې موخې لپاره د دوی چمتووالی ګډوډ کړي. له همدې امله چین نن د افغانستان او پاکستان ترمنځ د سولې خبرو اترو او منځګړتوب


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

پیل کړي دی. کله چې روسیې پر اوکراین وسله وال برید وکړ، دا د چین لپاره د ټایوان مسئلې پرخه کې یو بل زیګنال و.
چین د یو نوي نړیوال نظم یو ځانګړي تصور لري، چې په کې د دولتونو امنیت نور د ځنګل قانون پر بنسټ نه وي ولاړ. دا مفکوره تراوسه په لویدیځ کې نه ده منل شوې، خو د نړیوال کلي په جنوبي برخه کې شهرت موندلی دی.
شي جین پینګ د راتلونکي په اړه ډیر فکر کوي. د هغه موخه 2049 کال دی، کله چې د چین ولسي جمهوریت 100 کلن شي او د هغه د پلان سره سم چین به سوکاله او ځواکمن شي.
د 2049 کال د سلمې کلیزې په درشل کې، د چین دولت او ګوند مشر شي جین پینګ غواړي، چین د نړۍ لویو قدرتونو په سر کې ووینې، چینې تولنه یوې سوکالۍ منځنۍ کچې ته ورسوي. جین پینګ خپل ویژن یا لیدلوري ,, چینایي خوب,, بولي، کوم چې هغه د کلونو راهیسې په ټول هیواد کې په مختلفو شعارونو کې ترویجوي. معمولاً په عصري ځګو ودانیو، ښارونو، د لویو لارو په ځلور لارو تبادلو، یا د طبیعت په طبعي ښکلو انځورونه کې ننداري ته وړاندې کوي.
تر 2049 کال پورې تمه کیږي چې د چین وسله وال پوځ د امریکا د وسله والو ځواکونو سره برابري وکړي. تر 2049 کال پورې د شي جین پینګ خوب چین ,, د نړۍ په سر کې,, لیدل دي.

شي جین پینګ په خپله وینا کې ټینګار وکړ، چې هغه غواړي ډاډ ترلاسه کړي، تر 2059 کال پورې چین به د خپل ملي ځواک او نړیوال نفوذ له پلوه د نړۍ په سر کې وي.
دا به داسې حال کې چې شي جین پینګ به په 2049 کال کې د 96 کلونو څخه ډیر عمر ولري.
شي جین پینګ د جنوري په لومړیو کې د نوي کال په خپله وینا کې اعلان وکړ، چې ,, د مورنۍ ټاټوبي سره بیا یو ځای کیدل یوه تاریخي ناګزیر یا حتمي خبره ده.,, ایا دا په دې مانا ده چې د ولسي جمهوریت به د شي د ,, خوب موخه,, تر 2049 کال پورې په ډیموکراتیک ډول اداره شوي خپلواک ټاپو ټایوان باندې برید پیل کړي، خو د دې برید نیټه لا هم سمه روښانه نه ده.
شي جین پینګ په خپله نن 73 کلن دی. په 2049 کال کې به هغه 96 کلن وي. له همدې امله احتمال ډیر دی چې نور مشران به بالاخره د هغه د ,, چینایي خوب,, د پوره کولو یا سرته رسولو هڅو لپاره راوړاندې شي. وسمهال د یوه ځواکمن سړي، یو ځای ناستی کیدلو سړی په نظر کې نه راځي. خو بالاخره به یو څوک راڅرګند شي.

## د چین سیاسي نظام

چین او د نړۍ نوره برخې په نه بېلېدونکي توګه د وریښمنو له لیارې سره تړلې شوی دي. د دریو لسیزو راهیسې چټک اقتصادي پرمختګ او ودې وروسته، دا پوښتنه په زیاتیدونکي توګه راپورته کیږي، چې د چین ولسي جمهوریت به د یوویشتمې پیړۍ په نړیوال سیاست، نړیوال نظم او د نړیوال ځواک جوړښت کې څه رول ولوبوي.
د نږدې 1,4 میلیارډه نفوس سره چین د هند وروسته د نړۍ دویم ډیر نفوس لرونکی هیواد دی.
چین 22 ولایتونه، د قومي لږکیو لپاره پینځه نیمه خپلواکې سیمې ,, تبت، سنکیانګ، داخلي منګولیا، نینګ شیا او ګوانګ شي,، څلور ښاروالۍ چې مستقیم د مرکزي حکومت لاندې دي ,, بیجینګ، تیانجن، شانګهای او چونګ چینګ,، او دوه ځانګړي اداري سیمې ,, هانګ کانګ او مکاو,, لري.
د سیاسي سیستم یوه مشخصه ځانګړتیا د چین د کمونسټ ګوند مخکښ رول دی، کوم چې په اساسي قانون کې شامل دی. نور سیاسي سازمانونه، رسنۍ، مدني ټولنې، او مذهبي فعالیتونه ټول د ګوند تابع او تر کنټرول لاندې دي
د دې په کلکه تنظیم شوي کمونسټ ګوند په سر کې عمومي منشي شي جین پینګ قرار لري، چې وسمهال د اووه غړو لخوا رهبري کیږي او د سیاسي بیورو دایمي کمېټه غړي هم ټاکي.
د چین ولسي جمهوریت په 1949 کال کې د خپل تاسیس راهیسې یو مطلق العنان دولت دی، چې د چین د کمونیسټ ګوند (CPC) په مشرۍ د یو ګوندیزه نظام لري.

## لنډیز او پایله:

شي جین پینګ د معاصرې نړۍ یو له تر ټولو اغیزمنو مشرانو څخه دی. هغه د تاریخي فرصتونو، شخصي تجربو او سیاسي مهارتونو په مټ خپل واک ټینګ کړی دی. شي جین پینګ د خپلو پخوانیو مشرانو په پرتله په خپل شخصیت کې ډیر ځواک متمرکز کړی دی، چې د عامه افکارو کنټرول او څارنه یې مرکزي موضوع ده.
د هغه مشرتابه نه یوازې د چین راتلونکی ټاکي، بلکې د نړیوال نظم بدلون او نړیوال سیاست پر جوړښت کې اغیزمن مهم رول لوبوي. دا چې هغه به د نړۍ ,, تر ټولو ځواکمن واکمن,, پاتې شي که نه، دا به د راتلونکو کلونو سیاسي، اقتصادي او نړیوالو بدلونونو پورې تړلې وي. د چین کولکتیفي یا ډله ییزې رهبرۍ ماډل اوس له منځه تللی دی.
د دولت د بنسټ اېښودونکي، ماو زیدونګ راهیسې، د خلکو جمهوریت په تاریخ کې بل هیڅ مشر د شي جین پینګ په څیر دومره واک او ځواک نه درلود. نوی ماو زیدونګ شي جین پینګ د نړۍ تر ټولو ځواکمن واکمن ولسمشر دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولـئ

د شي جين پينګ په شخصيت کې د ارواپوهنې له اړخه یوه ښکارنده یا پدیده ښکاري، شي د سټاکهولم سنډورم له رواني پدېدې سره مخ و، دا هغه حالت دی، چې قربانیان له خپلو ځورووونکو سره مثبتې اړیکې جوړوي، ډېرې وخت له وېرې او د ژوندي پاتې کیدلو لپاره داسې اړیکې جوړي. له همدې امله جين پينګ د ماو زيدونګ مارکسيسټی نظريه او تګلارې خپلې کړي، څو واک ته ورسيږي او د خپل پلار په څير خلک ترينه کرکه او وېره ونه لري او د غدارۍ ټاپه پرې ونه لګيږي. همدا لامل شو، جين پينګ د یوه کوچني ما زيدونګ په نامه وبلل شي. ځکه د جين پينګ پلار د ماو لخوا سخت توهين او مجازات شوي و، مشره خور يې د کولتوري انقلاب د ظلمونو د نه زغملو له امله ځان وژنه وکړه، شي خپله هم د ماو لخوا مجازات او تعبيد شوي دی. شي نهه ځلې د چين کمونسټ ګوند غړيتوب لپاره عريضه وړاندې کړه، هر ځلې د شامليدو غوښتنه رد کيدله، تر هغې چې یوه ملګرۍ يې د پلار او خور ټولې سوانې چې په دفتر کې ثبتې وې ړنګې کړي. شي جين پينګ د خپل خاطراتو به کتاب کې ليکي: ماويستي سرو سرتيرو سل ځلې ورته ويلي و، چې مور. به تا ووژنو، شي ليکي: زه مجبورم چې په دوامدره توګه د ماو زيدونګ وينااوې او تيوري ولولم، تر څو دوی ته دا وښايم، چې زه يو ماويست يم. کله چې زه (شي) 22 کلنې کې بيرته بيجينګ راستون شوم، ما يو روښانه هدف درلود او بيا له په ځان باورمنتوب څخه ډک وم. دې تاريخی شاليد ته په کتو سره، اصلاً بايد شي جين پينګ د ماو زيدونګ د نظريې يو مخالف سړی جوړ شوي واې.

67 کلن شي جين پينګ لا دمخه په لسيزو کې د چين په ولسي جمهوريت کې ترټولو پياوړی سياستوال ګڼل کيږي. له هغه وخت راهيسې کله چې واک ترلاسه کړ، شي جبن پينګ په دوامداره توګه دولت او ګوند له ځان سره يو ځای کړي دي. د اساسي قانون تعديل کې ويل شوي، چې د دوه دورې محدوديت لغوه کول د شي په مشرۍ د کمونسټ ګوند مرکزي کميټې "واک او متحد مشرتابه" خوندي کولو او "د ملي مشرتابه سيسټم پياوړي کولو او بشپړولو" لپاره شي کار کوي.

د شي لامحدود مطلقه واکمني د پخواني "اجتماعي کولېکټيفي مشرتابه ماډل" پای ته رسولو په مانا دي.

کله چې شي جين پينګ د لومړي ځل لپاره په 2012 کال د اکتوبر په پای کې د کمونسټ ګوند د عمومي منشي په توګه د نوي مشرتابه ټيم سره يو ځای د کيمرې په وړاندې راڅرګند شو، دا په بشپړه توګه روښانه نه وه چې دغه سړی به په کوم لوري دغه هيواد رهبري کړي. د هغه د ځواک بنسټ نازک ګڼل کيده، او هغه په خپله يو څه اصلاحي ذهنيت لرونکی ټيکنوکراټ و، چې په د سمندر پر غاړه په ساحلي ولايتونو کې يې د پوستونو له لارې وده کړې وه. خو له 2012 کال راهيسې په لسو کلونو کې، شي د يو ملتپال او سختدريځي ايډيالوجيک په توګه راڅرګند شوی دی او په دوامداره توګه يې خپل ځواک پراخ کړی دی. يو چينې متل وايي: اوسپنه يوازې د سلو ځلو وهلوټکو ورسته په فولادو بدليږي.

د چين د سياسي نظام او د شي جين پينګ د مشرتابه په اړه ګڼې څېړنې شوې دي. اکثريت يې دا استدلال کوي چې د جين پينګ تر مشرۍ لاندې چين يو "نوی انقلابي دولت" ته نږدې شوی دی.

د ګوندي کنټرول پياوړتيا د هغه د واک اصلي بنسټ بولي. څېړنې، پلټنې او راپورونه د چين اقتصادي وده د نړيوال ځواک د بدلون مهم عامل ګڼي.

شي جين پينګ غواړي چين يو ځلې بيا د نړۍ يو پرمختللي ملت باندې بدل کړي. د نوموړي موخه دا ده، چې د چينايي ځانګړتياوو سره سم د سوسياليزم بريا رامنځته کړي.

چين کولی شي ډېر ژر د نړۍ د تر ټولو لوی اقتصادي ځواک په توګه امريکا له واکه وغورځوي. خو بيا به د نړيوال اقتصاد په سر کې يو ډيکټاتوری ما ويستي چينې نظام وي، نه يوه امريکايي ډيموکراسي او د امريکې د تعرفو سياست د چين کمونيسټ ګوند او حکومت وسمهال په چين کې د خلکو مغزه، ټول سياسي مدنې فعاليتونه، په ټولنېزو رسنيو کې د انټرنيت له لپارې څاري. لنده دا چې د خلکو ټول حرکتونه او کړه وړه څاري او کنټرولوي. د چينايانو جزوي تخطيو ته هم سزا ورکول کيږي. منتقدين يې خبرداری ورکوي چې دا ډول نظارتګر دولت نظارتي ډول شديده څارنه، د خلکو سره ظلم دی، د چاپيرپال ويجاړول دي، د چينايانو د آزادۍ له لاسه ورکول حالت پيل دی.

پای

## د ليکوال: آرشيف


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ